اروابښاد پوهاند محمد حسن کاکړ ۲۰۱۷/۰٤/۱۲

# جان سټوارټ مِل
# په نوي دقیقو کي
# د آزادۍ فلسفه، تجربي فلسفه،
# د ګټورتوب فلسفه

شپږمه او اخیرینۍ برخه





لیکونکۍ: پال ستراثرن

پښتو ژباړه: محمد حسن کاکړ

اهتمام او تصحیح: سیدال هومان

مل ټینګار کوي چې دلته بس یوازي یو *"ډېر ساده اصل"* سته *"چي د هغه باید په مطلق ډول د ټولنې چارې له فرد سره د اجبار او کنترول له لارې اداره کړي"*. په دې مانا چي *"هغه یوازنۍ پایله چي بشریت ته په انفرادي یا ټولنیز ډول حق ورکوي، د هر ځانګړی غړي د عمل په ازادي کي مداخله وکړي، ځانی ساتنه ده."* دا یوازنۍ عادلانه هیله ده *"هغه هیله چي مونږ یې له خپلو نورو ملګرو مخلوقاتو څخه لرو تر څو د مونږ د شتون د بنسټ د ساتنی لپاره راسره یو ځای شي"* - خو دی دا هم زیاتوي چي ټولنه مجبوره ده خپلو غړو ته *"دهوسایني لومړني اساسات"* برابر کړي. مل د *یوتلیتاریان (Utilitarian)* یا ګټورتوب یوه ټولنیز ایډیالي پړاو ته داسې په تمه ؤ. که څه هم له ایډیالي یوټوپیا (Utopia) [1] څخه دغه پړاو ډیر واټن لرې، خو د نن ورځې ټولني ته، کوم چي د ازدي نړۍ په ډېرو برخو کي لیدل کیږي یوه اندازه ورته دی. (خو د خنډونو د پوره مخکینۍ اټکل نه پرته چي داسي

---

[1]. یوتوپیا، د ارمانونو ښار، فاضله مدینه، س.ه.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

تولنه نا ارامه کولی شي.) د مل د تولنيزی ګټي رسولو نظام به هغه اجتماعي او اقتصادي شرطونه يقيني کړي چي فرد به د هغو له مخي په خپلو ايډياوو ژوند وکړي.

د مل د تولنيزی ګټي رسولو نظام به هغه اجتماعي او اقتصادي شرطونه يقيني کړي چي فرد به د هغو له مخي په خپلو ايډياوو ژوند وکړي. فرد به د يوه انسان په توګه په دغه ډول وکولی شي خپلو ټولو استعدادونو ته وده ورکړي. دلته يوځل بيا ټينګار په مترقي ځانی- ودی باندې ده چي فرد ارزښتونه وروزي او خپلی موخی تعقيب کړي تر څو په دې بريالی شي چی خپل شخصيت بشپړ کړي. (څنګه چي وروسته به ووينو مل سکسيست "د جنسي توپير پلوی" نه ؤ. د ګټورتوب ټولنه د هغی د ټولو غړو په خوښي سره غوړيږي.)

په دغه ډول آزادي د ګټورتوب په ايډيالونو باندې ولاړه ده. غړي او نظام د داسی يو *"تولنيز تړون"* له مخي نه سره يوځای کيږي، چي د هغی له مخي افراد له خپلو ځينو خصوصی ازاديو څخه تيرشی تر څو تولنيزی آزادی لاس ته راوړي. *"تولنيز تړون"* د آزادی څخه تيريدل غواړی په داسي حال کي چي د ګټورتوب ايډيال د هغه خصوصي وده په غير کي نيسي. ازادي او د ګټورتوب فلسفه له اوله سره تړلي وو. د بنتهام د ازادي مفکوره ټوله فرضی نه وه. په فردي ازادی باندي د هغه عقيدې، دی وهڅاوه چي ووايي کوم هغه قانون چي همجنس بازی منع کوي، بايد لغو شي. *"ځرنګه ويل کيدی سی چه د دوو کسو تر مينځ د خپلي رضا دغسي عمل، د دوی د مصئونيت يا د نورو يا د هر څه چي وی، له مصئونيت سره تړاو لري؟ دا يو څه مشکله ده چي درک شي."* دغسي وړاندي تللي مفکوری په هغه وخت کي چي په لواطت نيول شوی کسان په دار ځړول کيدل، په پراخه کچه نه اورېدلی کېدلي. د همجنسو تر مينځ د جنسي عمل په اړه د بنتهام نظر، چي د لوړو پرنسيپونو خاوند وو، او پخپله يې د جنسي عمل هيڅ تجربه نه لرله او د خپل عمر تر آخره لمنپاکی پاتي شو، د هغه د ګټورتوب د لبرلي کوونکی اغيزې په اړه زور څه را ته وايي. څنګه چي مل پخپله ځرګندوي، په لمنپاکي کی تولیز حکمونه ګونډې د يو بل چا لپاره چی عمري بکارت ولری ډېر مناسب وي. *"په داسي حال کي چي بشريت ناقص دئ، ګټوره ده چي نظرونه راز راز وي، بيا نو دا سمه ده چي بايد د ژوند کولو تجربې [هم] راز راز وي."* (په رښتيا سره هم زموږ په عصري ګټي رسولو تولنه کي پخپله پاک لمني ده چي د*" ژوند د ډېرې عجبی تجربې"* په شان ګڼل کيږي.) خو د دغسي تناقضاتو په اړه د پای خبره بايد د مل وي: *" زمونږ د نظريو د نه منلو او نقض کولو پوره ازادي، عيناً هغه شرط دئ چي د عمل د موخي په هکله رښتينتوب غوره کړو. په هيڅ بل عبارت، يو موجود د انسانی استعدادونو په درلودلو، نشی کولی پر خپل رښتينتوب په متناسبه توګه ډاده اوسی."*

د يادولو وړ ده چي د تولني هغو ببعدالتيو، چي مل يي دغو ليکنو ته وهڅاوه، په هماغه وخت کي يې *مارکس (Marx)* هم هڅولی ؤ چي *پانګه (Das Kapital)* وکاږي. ډېری به د برتانيي د وکټوريا د عصر د غريبوا خوارو، ښاري سيمو د ځپونکو شرايطو په نظر کي نيولو سره د مارکس انقلابي خيګان د مل د لوړو احساساتو په پرتله ډېر مناسبت ووينې. خو عجبه داده چي دا د مل د نظرونو بهير دي چي مونږ کی په پرله پسي ډول نغښتی دئ چي ظاهراً په هغه وخت کي اغيزمني نه ښکاريدي، خو لوېديزه تولنه ئی ننی حال ته ورسوله او اوس يي په دي پيل کړئ دئ چي هغه دولتونه هم پوه کړي چي په تازه وختونو کي له مارکسستي هيبت څخه سر هسک کړئ دئ.

ايا د مل خبرې په ريښتيا دومره بې اغېزې وي؟ لږ تر لږه په تيوري کي ، د خپل وخت د اجتماعي ناوړتياو په هکله د مل د علاج نسخې د مارکس په شان وی. مل، فردي موخو ته د ور رسيدو لپاره ازادي غوره کړه. مطلب

دا وو چي د فرد پټ طبيعي توان پوره ازاد شي، مونږ ټول قادر کړي چي خپل ټول استعدادونه کشف کړو. دغسي ازادي به زمونږ د تخليق او تخيل د توان د ودي د پوره زيږيدو لامل شي. په نتيجه کي به مونږ پر دي و توانيږو چي په اخلاقي، روحي او عقلاني لحاظ پرمختګ وکړو. دا به په خپل ځانګړی وار يوه داسی ښه ټولنه رامنځ ته کړي چی په خپلو هغو ناوړو پيښو غلبه وکړي چي مارکس يي پارولئ وو، خو پرته د انقلاب د شديدو ورانيو څخه. يو ځل بيا، د مل وړانديزونه دهغو اجتماعي او اقتصادي ستونزو دهوارولو لپاره، چی وکتوريايي برتانيه يي مصيبتناکه کړې وه، په سختی سره يوه عملی اواغېزمنه لاره برېښی. د هغی سره سره ګوندی په دقيق ډول برښېږ شوی وی چي لوېديزي ټولني د مل له وخت نه تراوسه د ۱۵۰ کلونو په بهير کي څومره پرمختګ کړئ دئ. د دغسي نظرونو ازادوونکي اغېزې په اول سر کي ډيری ورو وې، خو د تيری يونيمی پيړئ په شاوخوا کي هغه ډېری چټکی او بريالی شوې دی. د *سيليکان سيمي (Silicon Valley)* چي اوس په ټوله لوېديزه نړی کي ليدل کيږي، د مل د *ځان - پيژندنی* د واقعي کېدلو پوره بېلګي دي. *[د سيليکان سيمه د لوړي تکنولوجي سيمه]* او څنګه چي هغه په فردي کيفيتونو او تشبث تکيه لري، هغه به په يقين سره په دغو مؤقتي شاتګونو بريا ومومي.

د مل په لبرلي ګټورتوب فلسفي يو تېنګ انتقاد پرځای دئ. مونږ څنګه کولی سو چي ټوليز ښه والی: *"د ډيرو شميرو ډيره خوښي"* محاسبه کړو؟ سمدلاسه ځواب تجربوی دی. سليم عقل او تجربه به مونږ ته لاربنود شي، خو ان دا هم د ستونزو خوا ته ور درومي. مل ښه پوهېده، چي د فرد د نېکمرغی انفرادی غوښتنه هم ، په آخر کي د نېکمرغی ډول ډول شکلونو ته منتهي کيږي. خو د دې مانا دا ده چي په منطقي لحاظ ممکنه نه ده چي په ټولنه کي د لويې کچي نېکمرغی محاسبه وکړو. څنګه به د يوی ټوليزی نېکمرغی لپاره د علاج يوه نسخه ادعا وکړي چي ټولو ته نېکمرغي راوړي؟ په داسي حال کي چي هر يو د ځان لپاره د خپلي خوښي نېکمرغي غواړي. ايا د نېکمرغی لپاره زمونږ انفرادي ډوله نسخي به په واقع کي د ټولني د ټوليز ډوله نسخو سره کوم راز ډېره لګوی؟ د فلسفي مناظرو له اړخ نه ځواب *"نه"* دئ. هيڅ منطقي دليل نه ليدل کيږي چي د نېکمرغی فردي مفهومونه به ولی سره ګډ وي، خو د ګټورتوب فلسفي پلويان به استدلال وکړي چي دا لکه د هيوم فلسفي استدلالونو په شان مورد نه لري. د انسانانو په شان مونږ ټول د انساني طبيعت عنصر په ګډه لرو، او دا په کافي اندازه پراخ دئ چي يوه اجمالي پايله له هغی نه غوره کړو.

دا استدلال د *"ته، پوهيږې چي مفهوم لري"* په شان دئ. او په عمل کي، دا مدرن ډموکراتيک لبرليزم - ګټورتوب دی چي تر ماغزو په رښتيا کار کوی. اقتصاد پوهان د *"خوښي د حالت"* يو ټوليز عامل محاسبه کوی چي هغه معمولاً د مستهلک د لګښت په درجه او اندازه پوری اړه لري. خو په پای کي دا يوازي د اقتصاد له نظر نه د هغه د خپل شرط، خپلی پايلی او خپلی ښيګنی لپاره محاسبه ده. دا به دننه په ټولنه کي د خلکو د اجمالي خوښی *نښه* وي، خو په خپله نېکمرغي نه حسابوي. دا ځانله يو بېل ذات دی، او له دې سره چي مونږ څومره لګښت کوو، په هيڅ ډول ورته نه دئ: د دواړو تر مينځ ضروري اړيکه نشته، سره له دې هم داسي ښکاري چي دا هغه څه دی چي مونږ يي اوس مهال تر خپلی وسی کولی شو. څنګه چي زمونږ ټولنه په پياوړي ډول د اقتصادي عواملو له لاري اداره کيږي، دا به عجبه مالومه نه شي چي دغه عوامل ښيي چي مونږ په څه حال کي يو. مونږ په واقع کي په هغه حال کي بيرته داخل شوي يو، چي د بنتهام د سپيڅلي محاسبې د ډېر ښکته ګډو پيښو له معيار سره ورته والئ لري.

مل په خپلو خپرول سوو اثارو سره په زياتيدونکې توګه نوم وايست، او د درناوی شخصيت شو، او له دې امله يې د ورځې په موضوع ګانو باندې ښه اثر وکړ. کله چې د امريکې کورنۍ جګړه په ۱۸۶۱ کال کې پيل شوه، ده د شمال په ملاتړ ټينګ اواز جګ کړ. د هغه په نظر مريي توب د دغه جنګ مرکزي موضوع وه، چې د ګټورتوب د فلسفې په تجويزونو کې يې هيڅ ځای نه لاره. (ده،۱۱ چې لا ځوان وو، د ويليم وِلبرفورس *William Wilberforce* د مريي توب ضد لايحې چې د برتانيې په پارلمان کې دېرش کاله دمخه منل شوې وه، په ټينګه ملاتړ کړیځ ؤ.)

په ۱۸۶۵ کې خپله مل و هڅول شو چې پارلمان ته کانديد شي. خو هغه د خپل لبرل ګوند پلويانو ته څرګنده کړه چې ځان به يوازې په خپلو يو څه غيرو معمولو شرطونو سره کانديد کړي. د انتخاباتو په وخت کې به دئ هيڅ مبارزه و نه کړي او اجازه به هم ور نه کړي چې د ده په پلوې د رايو ګټلو لپاره چا ته پيسې ورکړل شی. په اول کې لا حاضر نه وو چې ويناوې واوروي، يا مؤکلين په کوم ډول مخاطب کړي. هغه د لبرلي ګټورتوب د پرنسيپونو له مخې غوښتل چې په دې اړه رايه ورکونکې په خپله خوښه فيصله وکړي. دی په پای کې وهڅول شو چې له دغې غېرعادي سياسي چوپتيا څخه تېر شي او يوه وينا وکړي. وروسته له هغه چې ده وينا وکړه، و اوريدونکو پوښتنو ته يې په ځواب ويلو پيل وکړ. خامخا له دغو پوښتنو به ځينې پارونکې هم وې. سره له دې هم هغه په پوره صداقت سره ځوابونه ورکول. يو ځل و پوښتل شو چې *" ايا تا په رښتيا ويلي وو چې د انګليس کارګري طبقې، که څه هم د نورو هيوادونو له کارګرانو نه په دې توپير لري چې په دروغ ويلو شرميږي، بياهم په عمومي ډول دروغجن دي."* هغه سم له لاسه ځواب ورکړ چې *" هو، ما ويلي وو."* د حاضرينو د کارګري طبقې غړو، د درناوي په ډول چکچکې وکړې، او مل په حقه غوره شو.

مل، د پارلمان د غړي په توګه، د يو شمېر موضوع ګانو په اړه ويناوې وکړې. ښځو ته د رايو ورکولو د حق، په حکومت کې د فساد د شته والي موضوع ګانو په ګډون د اقتصادي موضوع ګانو په اړه يې تخصصي سپارښتنې وړاندې کړې او د ۱۸۶۷ اصلاحاتو د لايحې په پاس کولو کې يې خپل وزن علاوه کړ. ( په پارلمان کې د دغه دوهم اصلاح په منل کېدلو سره د رايو ورکولو ساحه پراخه، او د رايې ورکولو شمېره دوه واره ډېره شوه.)

مل له دغه درانده کار سره سره د انتخاباتو په بله دوره کې خپله څوکۍ د يوه پياوړی ژورنالست دبليو. اچ سميت *(W.H. Smith)* په وړاندې له لاسه ورکړه. دوه شپېته کلن مل تقاعد وکړاو د فرانسې د اَوِينيون *(Avignon)* خيرمه سيمې ته لاړ چې هلته د خپلې ميني، هيريټ له قبر سره نژدې ژوند وکړي. د هغې لور[ د ده پرکتۍ] ، هيلن هم د هغه پوره خدمت لپاره لاړه ( يو ځل بيا، د هيڅ ډول نا مناسبې اړيکې نښانه نه وه). خپلې مړې شوې مېرمنې ته د مل وفا د ويکټوريايي دورې له معمولو احساساتو نه لوړه وه. مل د هغې داعيې لپاره، چې دواړه په ټينګه ورته ژمن وه،*"د ښځو د محکوميت"* په نامه يو اثر وکښه. د دغې موضوع بيلګه چې هغه منطقي پايلو ته رسوې په هغو لومړنيو ليکنو کې ده ، چې ده په خپل پخواني اثر *"پر ازادئ"* کې شرح کړې دي. پر دې برسيره چې دا د هغه د فلسفې يوه برخه ده، سيکالوجيکې بصيروتونه هم لري.*"تر هغه پورې چې د يو نظر ريښه په احساسونو کې کلکه نغښتې ده، په ثبات کې،د هغې پر ضد د يوو مزبوت استدلال په درلودلو سره د بايللو په عوض ، لاس ته راوړنه لري . ځکه که هغه د استدلال د نتيجې په توګه ومنل شي، د دغه استدلال ردول به ګوندې د پايلې کلکوالی ولړزوي؛ خو کله چې يوازې په احساس تکيه ولري، هر څومره چې په استدلالی مسابقه*

کي بد هم وځليږي،  پلويان يې ګومان کوي چي د دوی احساس بايد کوم ژور بنسټ ولري چي بحثونه نه ورته رسيږي." دغسي بصيرت د مل د ځانګړي استدلال په ډير آ خوا مکان او زمان  کی دئ .

د ګټورتوب د فلسفي استدلال د برابری لپاره مالومدار، او د مل امپيريسيزم او داسي هم د هغه  لبرليزم دهغي ملاتړ دي. خو د خپلو شخصي تجربو نه د هغه ټول استدلال، د عصري ښځي لپاره چندانی قوت نه لري. له هرييت سره د خپلو ډېرو نادرو اړيکو په نتيجه کي مل ځان مجبور وليد چي ومني، ښځي  د جنسی مقاربت "حيواني عمليه" هيله نه لری؛ نارينه بايد پر يوه" ضعيف جنس" باندي د دغه کرکجن عادت نه ډډه وکړي.

مل د ژوند څو آخرينی کلونه  د خپل ژوندليک (autobiography) په ليکلو تېر کړل.  هلته، دی صراحت او ځان سپرنه په خاص ډول په خپل احساس کی د خپل پلار په اړه څرګند کوی. دا له هغو يوه عالي ليکنو څخه ده چي ښيي د يوه "جبری نابغه" په شان روزل کيدل څنګه او د هغی اړوند اغيزي په څه ډول دي.  هغه د خپل "ځورووکی مقرراتی" پلار  په معرفی سره، د ويکټورياي دورې د يوې ربښتيني ځناور انځور وړاندي کوي.

د دغه اثر په لومړنی مسوده کي مل وايي چي"پلار او مور يې تر يوه چټ لاندي هغومره ليري ژوند کاوه، لکه چی شمالي قطب له جنوبي قطب نه ليري دی." دا چي د هغه د مور او  همدارنګه د هغه د ژوندانه د مينې نوم هرييت وو، پرې ډېر څه ليکل شوي دی. او دغو "سره ورته" نومونو ډېر ساهپوهان وهڅول چي ډول ډول تبصرې وکړي او ناقصي نتيجي ترينه وباسي.  هغه څه چي څرګند دئ دا دئ چي مل حتی د ماشومتيا په وخت کي لا پوهيده چي: "زما روزنه د مينې نه، بلکه د ويرې روزنه وه." دا چي له دغه حال څخه ووت، او له ډيرو لږو روحی اغيزو سره سره دغسي ژوندی ووت چي يو لبرل او انسان پال انسان تری جوړ شي، له معجزې څخه څه کم ندئ.  ان هغه کسان چي د مل له جنسي سپما سره موافق نه دي، ممکن د هغه له دغه نظر "د انسان په ژوند کي تر هغو چي د جنسی مقاربت حيواني غريضه، نامعقول لوړ نا متناسب ځای ولري، لکه چي لري يې، د  غتو اصلاحاتو تمه کېدلی نه شي." سره خواخوږي ولري. خو آ چي فرويډ راښکاره کېدونکئ وو، او خامخا انسانی ژوند هم ځان ته وده ورکړه.

مل په ۱۸۷۳ کال د شپږشپيتو کلونو په عمر د فرانسی په اَوِينيون (Avignon) کي وفات شو، خو د هغه لبرليزم، دی د وکټوريا د دورې بورژواګانو ته منلئ شخص نه وو کرځولئ.  همدارنګه د هغه د فرديت نسخي ،د چپيانو انقلابي موخو سره جوړي نه وې، بياهم د هغه مړينه په ټوله برتانيه او له هغه څخه د باندي، چيرته چي زړه سواندي د منافقت له لاسه وچ شوی نه وو او هر چيرته چي په ازادي باندي عقيده له خپلوی کټي او ځاني نظر نه مخ پر وړاندی غزيدلي وه، په ژور غم سره بدرګه شو.

## پايليک

مل د راتلونکو نسلونو له لاسه په نامتناسبه کچه زيان ليدلی دی. فيلسوفان هڅه کوي چي د هغه د ګټورتوب فلسفه غيرابتکاری وښيي، او پخپله دئ د بنتهام کامل پلوی وګڼی. دا تر بې انصافی نه هم لوړه ده. د مل لبرلي پراختيا او په پراخه کچه د ګټورتوب  د فلسفي ملاتړ ، د بنتهام فلسفي ايدياګاني يې هم په فلسفه او  هم په اجتماعي ژوند کي په پوره سمبال قوت واړولي.  همدا راز د مل لبرلي او سياسي ايدياګانو هم له دې امله چي هغه ډېر بريالي ووتلی، په زياته اندازه زيانونه وګالل.  هغه څه چي مل، د عام ذهنيت پرخلاف، پرې دريځ درلود، اوس مونږ ټولو ته څرګند ښکاري. مونږ په يو لبرل او د ګټورتوب په عصر کي ژوند کوو. د کانګرس لايحی، ډول ډول

اغيزناکي پرېکړي، حتی زمونږ شخصي اخلاقيات- ټول د ګټورتوب د ازمويني لاندي شوي دي. مونږ ټول چي په شعوري يا غيرشعوري ډول پريکړي کوو، او نظرونه وړاندي کوو، د ګټورتوب شعار *"د خورا ډېرو، خورا ډېره ګټه"* په ذهن کي لرو. دا دغومره پیاوړي ده چي په لويديزو ازادو دموکراسيو کي زمونږ د عصری ژوند يو نه ويل کېدونکئ بنسټيز پرنسيپ يا اصول دئ.

سره له دي هم په دقيق ډول دا د مل لبرليزم دئ چي نن ورځ لانجمن دئ. دا ګرد ډېر ښه دی چي سړی په لبرل عصر کي لبرل وي، خو د ټولني د ناتار په هکله دی بايد څه وشي. مل تيار وو چي دغه اغزن بوټي ته همدلته لاس ور وړي. هغه حتی د نشه توب په اړه هم ، د ځارګرو له فشار سره سره په خپل لبرلزم باندي ټينګ ودرېد. ټولنه حق نه لري چي خپل غړي تر فشار لاندي ونيسي، چي د يو *" د متوازن سلوک عادي معيار "* له مخي عمل وکړي. هغه استدلال وکړ، چي ټولنه په ماشومتيا او د ځوانی په اولو کي په فرد باندي د "مطلق قدرت " حق درلود، او که هغه نشي کولای په دغه وخت کي په هغه کي متوازن سلوک تزريق کړي، ملامتيا به پخپله د ټولني وي، چي غړي يې په غېر عقلي ډول چلند کوي.

نن ورځ د دغسي لبرلزم په وړاندي دوي نيوکي پر ځای دی. لومړی دا چي زمونږ ټولنه له الکولي نشه توب نه د مخدراتو (drugs) له نشه توب نه ډېر رنځ وړي. په اعتياد اخته کوونکي قوی مخدرات له بربادونکي *"غېرمتوازن توب"* څخه ډېر پياوړئ او مخرب ښکاري. له بلي خوا مل ممکن له يوی اندازی خواخوږی سره استدلال وکړي، چي نشه توب د ويکتوريا د وخت په ډيرو غريبو ښاري برخو کي په برابره اندازه ورانی کوو. بله داچي عصري ټولنه په تنکيو ځوانانو باندي يقيناً *"مطلق واک"* نه لري. ( او دا تر زياتي اندازې د پوهني، روزني او داسي نورو په اړه د لبرلو دريځونو نتيجه ده.) که مونږ وغواړو چي ځانونه په دغسي حال کي ووينو، چي د مل لبرلزم ځيني اړخونه ترک کړو، دی به بيا هم زمونږ تفکر ته لارښوونه کوي. مونږ چي په هر هغه څه هوکړه وکړو، چي د دغسي بې اثره لبرلزم پر ځای يې غوره کړو، هغه به د ګټورتوب د پرنسيپونو له مخي وي. مل به تل زمونږ رايه و نه لري، خو د پای خبره بياهم د هغه ده.

## *پای*




*جان ستيورت مل*

# د مل له ليکنو څخه

*د خورا ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي د اخلاق او قوانينو بنسټ دئ.*

*جرمي بنتهام*

*طبيعت، انسان د دوو حاکمو بادارانو" درد او خوند"، تر حاکميت لاندي کړي دي. دا کار يوازي د دوی دئ چي ووايي، څه بايد وکړو، همداسی وټاکي چي څه به کوو. له يوې خوا د حق او باطل معيار، او له بلې خوا د علتونو او معلولونو لړی د دوی په جغه ور تومبل شوی دی. ټول هغه څه چي مونږ يې کوو، ټول هغه څه چي مونږ يې وايو او ټول هغه څه چي مونږ پری فکر کوو، دوی يې اداره کوي. مونږ چي هره هڅه وکړو تر څو له دغه محکوميت څخه ځان و ژغورو، د دوی لپاره به خدمت وی، نه دا چي وېې ښيي او تائيد يې کړي. يو څوک به ممکن په خبرو سره ادعا وکړي چي د هغو له حاکميت نه به ازاد شي، خو په واقع کي هغه به تر پايه پوري د هغو تابع پاتي وي. ... هغه سيستمونه چي هڅه کوي تر پوښتني لاندي يې ونيسي، د احساس پر ځای له غږ، د دليل پر ځای له بوالهوسی، او د رڼا پر ځای له تيارې سره معامله کوي.*

*جرمي بنتهام*

*د يوه شي غوښتل او هغه په زړه پوری ميندل، بيا له هغه څخه مخ اړول، او هغه زبړنوونکی ګڼل، ګرد سره نه شلېدونکي پديدې دي ، يا د دغو پديدو دوې برخي دي. ... د هر هغه شي غوښتل، پرته له دې نه چی د هغه متناسب خيال يې خوښي راولي، يوه فزيکي او ميتافزيکي ناشونتيا ده.*

*جان ستوارت مل، د ګتورتوب فلسفه*

*که چيرې بشريت ته و ښودله شي، چي خوښي د ژوند د آخر په توګه وګڼي او پر خپلي دغي معتدلي برخي قانع شي، معترضان ممکن پری شک وکړي. خو د بشريت ډېره برخه له هغی نه هم په لږ سره قانع شوې ده. داسي ښکاري چي د سوکاله ژوند اصلی عناصر به دوه وي چي اکثره، هر يو يې په ځانګړې توګه زموږ د مقصد لپاره پوره بسيا لری. هغه "آرامتيا او هيجان" دي.*

*جان ستيوارټ مل، د ګتورتوب فلسفه*

*ښه دا ده چي يو انسان يی خو ناراضه، نه يو سوډر خو راضي ، ښه دا ده چي ناراضه سقراط اوسي، نه يو راضي احمق. نو که احمق او سوډر د جلا نظرونو خاوندان دی، له دې امله ده چي هر يو يې يواځي د موضوع خپله خوا ويني.*

*جان ستوارټ مل، د ګټورتوب فلسفه*

*د دغه بحث موخه د يوه ډېر ساده پرنسيپ بيان دئ، چي ټولنې ته حق ورکوي تر څو چاری په مطلقه توګه له فرد سره د اجبار او کنټرول له لاری تنظيم کړي. که دا فزيکی زور د قانوني مجازاتو په بڼه وي، يا د عامه ذهنيت اخلاقي فشار. دا پرنسيپ هغه يوازنی آخر دئ چی بشريت په فردي يا ټولنيز ډول مجاز ګرځوي د ځان-ساتنې په موخه د هر غړي د عمل په ازادي کي مداخله وکړي. هغه يوازنی موخه چي زور په سمه توګه د يوې متمدنې ټولنې په هر غړي باندي، د هغه د ارادې پر خلاف استعمال کيدی شي، تر څو نورو ته د زيان مخه و نيوله شي. د هغه خپل ښه والئ، فزيکي وي يا اخلاقي، پوره جواز نه دئ. هغه پر حق مجبور کېدلی نه شي،*

*چي عمل یا تحمل وکړي چي دا ورته ښه دي چي همداسی وکړي، ځکه چي دی به پری خوښ شی، ځکه چی د نورو په نظر که همدغسي وکړي، دا به ورته عاقلانه  او یا حتی  پرحق وي،*

*جان ستوارټ مل، پر ازادئ*

*فرد پر خپل ځان، پر خپل بدن او ذهن د مطلق حاکمیت خاوند دئ.*

*جان ستوارټ مل، پر ازادئ*

*که ټول بشریت منفي یو، په یوه نظر وي او یوازي یو کس مخالف نظر ولري، بشریت به د دې حق و نه لري چي هغه چُپ کړي، لکه هسي چي که دی په واک شي، حق نه لري چي بشریت چُپ کړي.*

*جان ستوارټ مل، پر ازادئ*

*هر څومره چي یو اثر د تنګو ذهنیتونو محصول وي، له هغو نه به محدودي نتیجې راوایستل شی.*

*جان ستوارټ مل، اګوستی کومټی او مثبتیت*

*د انسانانو رښتینې صفات په هغه سلامتی کی ده ، چي سره د برابرو په شان یو ځای ژوند وکړي؛ چي هیڅ شی د ځان لپاره و نه غواړي، خو هغه په ازاد ډول نورو  ته وغواړي، چي د هر ډول حاکمیت غوښتنه د یوه استثنایي ضرورت له مخي کوي، او هغه هم په ټولو حالاتو کي د مؤقت وخت لپاره.*

*جان ستوارټ مل، د ښځو محکومیت*

*ځان وپوښته چي که ته نېکمرغه یې، او ته نه غواړې چې هسی اوسې.*

*جان ستوارټ مل، اتوبیوګرافي*

## د مهمو فلسفي نېټو کرونولوجي

- شپږمه پیړۍ، مخزېزده (م.ز.) پیل — د ملیتُس د تالیس (Thales of Miletus) په مټ د لوېدیزي فلسفې
- اټکل د شپږمي پیړۍ پای م.ز. — د پیتا ګورَس (Pythagoras) یا "فیساغورس" مړینه
- ۳۹۹ م.ز. — په آتن کي د سقراط (Socrates) محکومیت په مرګ
- اټکل ۳۸۷ م.ز. پرانیستله. — پلټو(Plato ) یا "افلاتون" په اتن کي اکاډمي(Academy) لومړنۍ پوهنتون
- ۳۳۵ م.ز. (Lyceum) یا پرانیست — اریستاټل (Aristotle) یا "ارسطو" په اتن کي لیسیوم "لیسه" ، د اکاډمی په رقابت یو مکتب
- ۳۲٤ زېږده (ز) کړه. — امپراتور کانستانتین (Emperor Constantine)  د روم امپراتوري بیزانتیم  (Byzantium) "بیزانس" یا ننی استانبول ته نقل
- ٤٠٠ ز. — سان اګوستین(Saint Augustine) خپل اعترافات (Confessions) لیکي. فلسفه په عیسوي الهیاتو کي ورګډېږي.
- ٤١٠ز. پرانیسته — د وِزیګوټانو(Visigoths) له خوا د روم لوټېدل، د تورو دَورو کیدل.
- ٥٢٩ ز — په اتن کي د امپراتور جستینیان (Justinian) په حکم د اکاډمی تړل کېدل، د یوناني تفکر پای  په نښه کیدل.
- اټکل منځنۍ دیارلسمه پیړۍ — توماس اکیناس (Thomas Aquinas) په ارسطو تفسیرونه لیکي. د سکولاستیسیزم (Scholasticism)عصر.
- ١٤٥٣ — د عثماني ترکانو په لاس د بیزانس نیول، د بیزانس د امپراتورۍ پای

- ۱٤۹۲ کي احیا. کولمبس(Columbus) امریکا ته رسیږي. په فلورانس (Florence) رنسانس (Renaissance) او د یوناني علومو په اړه د علاقه منۍ
- ۱٥٤۳ کوپرنیکس (Copernicus) یا "کوپرنیک" د اسماني کرو د څرخیدو یا (On the Revolution of theCelestial Orbs) په اړه چي ځمکه د لمر په مدار څرخي. د ریاضي پر بنسټ ثبوت خپروي
- ۱٦۳۳ ګالي لیو (Galileo) یا " ګالیله" د عیسوي کلیسا له خوا مجبوریږي چي له دغه نظر نه چي لمرثابت او د نړۍ مرکز دئ او ځمکه پرې راڅرخیږی، توبه وکړي
- ۱٦٤۱ دکارت (Descartes) خپل تفکرات خپروي. د عصري فلسفي پیل.
- ۱٦۷۷ د سپنوزا (Spinoza) مړینه د هغه د اخلاقیاتو(Ethics) چاپ شوني کوي.
- ۱٦۸۷ نیوټن (Newton) د پرنسیپا (Principa) په خپرولو سره د ځمکي د جاذبي مفکوره معرفي کوي.
- ۱٦۸۹ جانلاک (John Locke) د انسان د پوهاوي په اړه اثر خپروي. د امپریسیزم "empiricism" پیل
- ۱۷۱۰. امپریسیزم برکلي (Berkeley) د انسان پوهي د پرنسیپونو په خپرولو سره نهایي حد ته رسوي.
- ۱۷۱٦ د لایبنیز (Leibniz) مړینه
- ۱۷۳۹-۱۷٤۰ امپیریسیزم خپلو هیوم (Hume) د انسان د طبیعت په اړه اثر خپروي او منطقي پړاوونو ته رسوي
- ۱۷۸۱ کانت (Kant)، چي د هیوم (Hume) له خوا، له خپلو " بی سده څُرتونو" ځخه را ووت، د رانه استدلال کره کتنه خپروي. د جرمن د میتافزیک (German Metaphysics) د دوری شروع .
- ۱۸۰۷ هیګل (Hagel) د ذهن فنامینا لوجي (Phenomenology)خپروي. د جرمن د میتافزیک لوړ ټکي. [فنامنالوجي، د پیښو علمي شرح]
- ۱۸۱۸ شوپنهاور(Schopenhauer)، نړۍ د ارادي او استازیتوب په شان (The World as Will and Representation) په خپرولو سره، هندی فلسفه د جرمن په متافزیک کي مروجه کړه.
- ۱۸۸۹ نیچه (Nietzsche) د "خدای مړ دی" په اعلانولو سره په تورین (Turin) کي لیوني کیږي.
- د ۱۹۲۰ لسیزه د ویانا ګړی (Vienna circles) د منطقي مثبتیت (Logical Positivism) تفسیر کوي.
- ۱۹۲۱ وِتګِنشتاین (Wittgenstein) د منطق-فلسفی اصولی بحثونو یا (Tractatus Logico-Philosoicus) په خپرولو سره ادعا کوي چي د فلسفي مسائلو لپاره یي د حل اخیرني ټکی موندلئ دئ.
- ۱۹۲۷ هایډګر (Heidegger) د شته والي او زمان په خپرولو سره د تحلیلي او قاره یی فلسفي تر مینځ درز اچوي.
- ۱۹٤۳ سارتر(Sartre) د شته والي او نه شته والي په خپرولو سره د هایډګر مفکوره د مخه بیایي او فردی موجودیت را پاروی
- ۱۹٥۳ د وتګنشتاین(Wittgenstein) له مرګ نه وروسته د "فلسفي څیړني" په خپریدلو سره د ژبني تحلیل لوړ عصر.

## د مل د ژوند او عصر نیټي

۱۸۰٦ جان ستيوارټ مل (John Stuart Mill) د مې په شلمه په لندن کي وزيږيږد.

۱۸۰۷ وړډزوړت(Wordsworth) "شعرپه دوه توکو کي" خپروي. هيګل (Hagel) د روح فنامنالوجي خپروي.

۱۸۱۷ خپل وخت نه دمخه، رسېدلئ مل (Mill)، د خپل پلار جيمز مل (James Mill) په هدايت، د روم د تاريخ په ليکلو پيل کوي.

۱۸۲٤ له ختيځ هند کمپنۍ سره مامور کيږي.

۱۸۲٦ په عصبي رنځ اخته کيږي.

۱۸۳۰ په ميږوښې هرييت (Harriet) مين کيږي، او د هغې د مېړه جان ټېلر(John Taylor) په رضايت هغې سره افلاتوني اړيکو ته دوام ورکوي.

۱۸۳۲ د اصلاح لومړۍ لايحه منله کيږي.

۱۸٤۳ مل د منطق سيستم خپروي.

۱۸٤۸ په ټوله اروپا کي انقلاب کيږي. مارکس ( Marx)او انګلز(Engels) د کمونسټ منيفستو (Communist manifesto) خپروي. مل د سياسي اقتصاد سيستم خپروي.

۱۸٤۹ د هرييت (Harriet) مېړه، جان ټېلر(John Taylor) ، مري.

۱۸۵۱ مل (Mill) له هرييت (Harriet) سره واده کوي.

۱۸۵۸ د ختيځ هند کمپنۍ منحله کيږي. مل (Mill) تقاعد کوي او له هرييت (Harriet) سره فرانسې ته ځي. هري يت د فرانسې په جنوب کي، په اَوِينيون (Avignon) کي له نري رنځ نه مري.

۱۸۵۹ ډارون (Darwin) د ژونديو جنسونو منشأ خپروي. مل (Mill) د ازادۍ په اړه اثر خپروي.

۱۸۵۱ [۱۸۶۱] د امريکې کورنۍ جګړه پيل کيږي. مل د شمال پلوي په برتانوی ذهنونو کی هڅوی. د ګټورتوب فلسفه (Utilitarianism) خپروي.

۱۸٦۵ د پارلمان د غړي په توګه غوره کيږي.

۱۸٦۷ د پارلمان له خوا د اصلاح دوهمه لايحه منله کيږي.

۱۸٦۸ مل (Mill) په عمومي انتخاباتو کي ماته خوری، او په پارلمان کي خپل غړيتوب بايلي. بيا اَوِينيون (Avignon) ته ځي، چيرته چي د هغه پرکټۍ، هيلن ټېلر(Helen Taylor)، د هغه خدمت په غاړه اخلي.

۱۸٦۹ مل 'د ښځو محکوميت' په نامه اثر خپروي. د سويس کانال پرانيستل کېدل.

۱۸۷۳ مل (Mill) په اَوِينيون (Avignon) کي د شپږشپېتو په عمرمري.